مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خوشحال آصفي ۲۰۱۸/۰۴/۱۴

پوځي يونيفورم کې د تېلو غله

د افغانستان د بيارغوني لپاره د امريکا د مرستو د سرمفتش اداره يا سيګار په خپل تازه راپور کې ويلي چې د افغان ځواکونو تيل "غلا" کيږي. د سيګار په رپوټ کې ويل شوي چې لږ تر لږه د ۱۵۴،۴ ميليون ډالرو په ارزښت تيل د امريکا د متحده ايالاتو او افغان امنيتي ځواکونو نه غلا شوي دي. په داسې حال کې چې د پنټاګون د اټکل له مخې افغان امنيتي ځواکونه په کال کې شاوخوا ۴،۹ ميليون ليتر تيلو ته اړتيا لري؛ د سيګار موندنې ښيي چې د امريکا د دفاع وزارت د ۲۰۰۸ ميلادي نه تر ۲۰۱۶ پورې شاوخوا ۱۰،۶ ميليون ليتره تيل د افغانستان د پوځي عملياتو لپاره برابر کړي دي چې مجموعي ارزښت يې څه دېاسه ۱۳ ميليارد ډالر کيږي.

دا په داسې حال کې ده چې تېر کال هم سيګار راپور ورکړی و چې د افغانستان د پوځي ځانګې د وژل شويو منسوبينو له کونډو نه د هغوی د مېرونو د تقاعدي تاديو د ورکولو په بدل کې جنسي غوښتنې شوي دي. مخکې سيګار ويلي و چې د ملي اردو اړوندو ادارو کې د شهيدانو له ښځو غوښتنې شوي چې تر هغه يې د خاوند د شهادت امتيازات نه ورکول کيږي تر څو د دوي جنسي خواهشات پوره نه کړي. بل لور ته څه موده وړاندی د افغانستان لپاره د روسيې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمير کابلوف هم ويلي و چې طالبانو له روسيې پيسې غوښتي او پدې پيسو له افغان امنيتي ځواکونو نه وسلې پېري. حکومت پر طالبانو د وسلو د پلورلو خبر رد کړی و.

که څه هم د امنيتي ځواکونو له کونډو ځخه د جنسي غوښتنو اړوند د سيګار راپور افغان حکومت په کله رد کړی و او ممکن د افغان امنيتي ځواکونو له موټرو ځخه د تېلو د غلا خبر هم رد کړي؛ خو په ټوله کې دا ډير د افسوس او شرم ځای دی چې د امنيتي ځواکونو په ليکو کې داسې وجدان پلورونکي او د ناموس قاتالان شتون ولري چې د خپل د سنګر ملګري ناموس او عزت ته يې سترګې پټې کړي وي او يا هغه تېل چې د خلکو د ساتنې په موخه د دوی امنيتي موټرونو ته ورکول کيږي؛ دوی غلا او په بازار کې وپلوري. د مسلمان او افغان ملت لپاره دا ډير د افسوس خبره ده چې له يوې خوا د مسلمانی دعوه کوو، د جهاد ناري وهو او ځانونه د جنت ټيکه داران بولو، خو له بلې خوا بيا د امنيتي ځواکونو په مقدسو ليکو او سپيڅلي يونيفورم اغوستلو سره سره بيا هم خپل وجدان او ضمير پلورو او د خپل موټر تېل په دښمن خرڅوو.

که څه هم امکان لري چې د افغان ځواکونو د مورال ښکته کولو او يا په ټولنه کې د افغان امنيتي ځواکونو د نوم د بدولو لپاره ځيني بنسټونه او هېوادونه ورته ځرګندونې وکړي چې ګويا دوی خپلې وسلې پر دښمن پلوري يا د امنيتي ځواکونو له کونډو جنسي غوښتنې کيږي او يا دوی له دښمن سره لاس لري، خو په ټوله کې دا د ټول ملت او د ټول افغان حکومت لپاره د شرم وړ خبره ده چې د امنيتي ځواکونو په اړوند داسې خبرونه خپريږي چې هم دين او هم يې فرهنګ مخالفت کوي. حکومت يې بايد جدي پلټنه وکړي او د امنيتي ځواکونو په سپيڅلو لمنو دې د ننګ دغه داغ پيدا کوونکي خدای شرمولي خلک د عدالت ميدان ته راکش کړي.

که څه هم سيګار اوس په تازه کې د افغان امنيتي ځواکونو د تېلو د غلا په اړوند راپور خپور کړ خو له وړاندې داسې اوازې موجودې وې چې د امنيتي ځواکونو په ليکو کې ځيني پلورل شوي او دښمن ته وفادار خلک شته چې د امنيتي ځواکونو له موټرو تېل راوباسي او بيا يې په دښمن او يا په بازار کې پلوري. هغه څه چې په دې مورد مونږ د خلکو له خولو اوردیدلي وايي چې ځيني افسران او منصبدران د شپې لخوا د موټرو ټانکيو ته پيپونه ښکته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کوي، تېل يې راباسي او بيا يې په کوچنيو بوتلونو کې له پوځي مرکزه راوباسي. دوی د تېلو د غلا لپاره آن د پيپسي کوچني بوتلونه په بدو وهي، د خپلو شخصي موټرو په سويچ بورډونو او آن د شخصي موټرو په هغه ځای کې چې بريک او ايکسليټر شتون لري؛ له شترينګ لاندې بوتلونه ږدي او بيا يې په دې طريقه له پوځي مرکزه راوباسي او د باندې يې په خلکو پلوري.

حکومت بايد ياده قضيه جدي ونيسي، د امنيتي ځواکونو ليک چاپ کړي، هغوی چې شخصي موټري لري بايد په دقيق ډول تلاشي شي او بيا هغوی چې د تيلو او د امنيتي ځواکونو په نورو اړتيا ور موادو لکه شيدو، ملايې، غوښې او نورو غلاوو کې لاس لري، اشد مجازات کړي څو نورو لپاره د عبرت درس وګرځي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ